مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالغفور لیوال

۲۰۲۶/۰۹/۲۴

**فرهنګي سپړنه:**

# د مغزو تېښته، ملي فاجعه

د مغزو تېښته څه ده؟ ولې دا اصطلاح رامنځته شوې ده؟ افغانستان په تېره نیمه پېړۍ کې لړ ترلړه درې ځلې د خپلو متخصصینو او علمي کادرونو له تولیزې کډوالۍ څخه کړېدلی دی. هرځلې چې د ثبات او ملي حاکمیت یو لنډمهالی امکان هم رامنځته شوی، نو مستعدو افغانانو په بېلابېلو څانګو کې خپل استعدادونه ځلولي دي، خو همدا چې هېواد د علمي کادرونو له اړخه ځان بسیاییني ته ورنږدې شوی، یوه بله غمیزه پېښه شوې او وطن خپل علمي کادرونه بیا بیا بایللي دي.

په ګل پسې رندیږو د ګلونو په وطن کې
دي کاڼي مو په برخه د لعلونو په وطن کې

دي ژوند ته تاسو څه نوم ورکولی شئ ملګرو
په څاځکي پسې مره شو د سیندونو په وطن کې

خیالونه مو لوټ کیږي او فکرونه مو قتلیږي
نه تور شو او نه سپین د تهمتونو په وطن کې

د دغو بیتونو انقلابي شاعر رحمت شاه سایل بل ځای ویلي وو:

«چې کیني نورو وطنونو ته زلمي لویوي
میندې لیونۍ دي ناداني دي»

د کډوالیو له دوو تاریخي لویو څپو روسته چې یوه یې د شوروي یرغل او بله یې د کورنیو تنظیمي جګړو پرمهال وشوې د یویشتمې پېړۍ د پیل په دوو لسیزو کې یوځل بیا افغانستان د خپلو بچیو د روزنې نیمګړې امکانات موندل. له دوه زره ویو څخه تر دوه زره و یویشتم پورې له جګړو او ناخوالو سره سره لسګونه زره پېغلې او ځوانان په کور دننه او له هېواده بهر زدکړو ته ولاړل، تر دکتورا او ماستریو پورې زدکړې وشوې، نوې تجربې راغلې، له تکنولوژۍ او نویو علمي میتودونو سره بلد نسل د پوهنې درېځ ته راغی او له دې اړخه افغانستان ورو ورو پرځان بسیاییني ته ورنږدې کېده.

خو د افغانستان له سقوط سره یوځای دا بهیر هم سقوط شو، د مغزو تېښته پیل شوه او داسې ویروونکې تشه یې رامنځته کړه، چې ډکول یې که ناشوني نه‌وي، نو ډېره سخته به وي.

د پوهنیزو کادرونو، متخصصانو، مفکرانو، تخنیکي ماهرانو او خلکو ته د منلیو او باور وړ شخصیتونو تولیزې کډوالۍ ته د مغزو تېښته وایي، چې له یوې بشري جغرافیا څخه نورو هېوادونو ته ځي. د ژوند نامساعد شرایط، جګړې، بحرانونه، سیاسي ګواښ د عقایدو تفتیش او د کار نشتوالی یې لوی لاملونه دي. د مغزو د تېښتې غمیزه یوازې د هغوی اصلي هېوادونو او خلکو ته نه ده، بلکې د دې غمیزې بله برخه دا ده، چې په نوې ټولنه کې هم دغه کادرونه په خپلو تخصصي څانګو کې نه‌جذبیږي او په دې توګه د دوی تخصص ضایع کیږي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

له افغان کادرونو سره هم داسې وشول، ګڼ یې داسې هېوادونو ته ولاړل چې د هغه ځای ژبه یې زده‌نه‌وه. هلته یې تخصص درک نه‌شو، پوهنیز ستندردونه یې بل ډول ول. له نوي چاپېریال سره نابلده متخصصان له فرهنګي شوک سره مخامخ شول. ځینې یې له خپل مسلک لرې په نورو کارونو بوخت شول او ځینې یې ژورو خپګانونو داسې ډوب کړل لکه خړ سیلاو یې چې یوسي. د افغانستان لپاره دا روزل شوي ماغزه داسې ضایع شول. بېرته په هېواد کې اوس نه په کافي شمېر کې ډاکتر شته، نه استاد، نه څېړونکی نه تکنولوژي پوه او نه هم د ادارې متخصص یا ټولنپوه او د ټولنیز شعور د روښانولو کارپوه. وطن خپلې اړتیا ته په پام له کادرونو داسې تش دی لکه خزانه چې له غمیو تشه شي.

د افغانستان د لوړو زدکړو په سکتور کې تر دوه زره و یویشتم پورې د علمي کادرونو وضعیت مخ په ښه کېدو و. د ظرفیت لوړونې یوه ملي ستراتیژي وه، په زرګونو پېغلې و زلمیان چې لوړو زدکړو ته لېږل شوي وو، پخپله بېرته هېواد ته راستنېدل او کار یې کاوه. علمي کادرونه او متخصصان په ګڼو سکتورونو کې بوخت ول. خو ناڅاپه داسې یو په بل مخ اوښتون راغی چې اوس افغانستان له خپلو علمي کادرونو تش شوی. ایا دا تشه بېرته ډکېدلای شي؟ ایا دا د بشري پانګې یو بحران دي؟ په دې اړه نړیوالې تجربې څه دي؟ دا هغه اساسي پوښتنې دي، چې باید د افغانستان خلک او هر ملي و مشروع حکومت چې په راتلونکي کې راځي باید جدي پام ورته وکړي. افغانستان یوازې د خپلو بچو په پوهه و خولو جوړېږي، هېڅ هېواد په بشپړه توګه پردیو جوړ کړی نه‌دی.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ